دَ مسلمانانو دَ سوونو کالو
دورِ حکومت تاریخی ترتیب او دورانیے خاکه

# مختصر تاریخ
# زمونږ حکمرانی

تاریخ اسلام کښې دَ خلافت او سلطنتونو تسلسل ،
دَ نشیب وفراز تاریخ وار داستان ، دَ حکمرانانو دَ اقتدار
واګے او دَ دارالخلافو دَ تعین تفصیلی معلومات

مرتب
مولانا مفتی محمد ایاز درانی صاحب حفظه الله



العلم پبلیکیشنز

دَ مسلمانانو دَ سووُنو کالو

دورِ حکومت تاریخی ترتیب او دورانیے خاکه

# مختصر تاریخ

# زمونږ حکمرانی

تاریخ اسلام کښې دَ خلافت او سلطنتونو تسلسل ،
دَ نشیب وفراز تاریخ وار داستان ، دَ حکمرانانو دَ اقتدار
واکے او دَ دارالخلافو دَ تعین تفصیلی معلومات

مولانا مفتی محمد ایاز درانی

رئیس جامعه تبلیغ القرآن

یوسف آباد پشاور

# فهرست


| شماره | عنوان | صفحه نمبر |
|---|---|---|
| 1 | پیش لفظ | 1 |
| 2 | دَ ترقۍ نه زوال ته پرمختګ | 5 |
| 3 | زمونږ حکمرانی ، دَ ریاست مدينې قيام، خلافت راشده | 7 |
| 4 | قيام رياست ، خلافت، خلافت راشده ، دور عزيمت | 12 |
| 5 | دور رخصت ، اسفائيون | 13 |
| 6 | خلافت بنو اميه (سلسله مروانی) | 14 |
| 7 | سلسله خلافت بنو عباس(بغداد) | 16 |
| 8 | خلافت عباسيه بغداد (دور اول) | 17 |
| 9 | خلافت عباسيه بغداد (دور دوم) | 19 |
| 10 | خلافت عباسيه بغداد (دريم دور، مصر) | 22 |
| 11 | سلجوقی سلطنت | 27 |
| 12 | مرکزی سلجوقی سلاطين | 29 |
| 13 | سلجوقی سلاطين کرمان | 30 |
| 14 | سلجوقی سلاطين شام | 31 |
| 15 | سلاطين سلاجقه روم (اناطوليه) | 32 |
| 16 | سلطنت عثمانيه | 34 |
| 17 | سلطنت عثمانيه (نهه سلاطين) | 35 |

| | | |
|---|---|---|
| 18 | خلافت عثمانیه (یوکم دیرش خلفاء) | 36 |
| 19 | خلافت هسپانیه (اندلس) | 41 |
| 20 | مرکز ناچاقی لرونکي بعضې حکومتونه | 45 |
| 21 | سلطنت هند | 50 |
| 22 | د عربو هندوستان ته آمد | 51 |
| 23 | د محمود غزنوی او ولس حملې | 52 |
| 24 | د محمود غزنوی مشهورې حملې | 52 |
| 25 | په هندوستان کښې مسلمانان حکمران خاندان غلامان | 53 |
| 26 | خلجی خاندان | 55 |
| 27 | تغلق خاندان | 56 |
| 28 | سادات خاندان | 58 |
| 29 | لودهی خاندان | 59 |
| 30 | مغل خاندان | 59 |
| 31 | سوری خاندان | 60 |
| 32 | سقوط بغداد نه سقوط دلی پورې | 61 |
| 33 | ۱)کمزورې دفاع: | 61 |
| 34 | ۳)معاشی بد حالی : | 62 |
| 35 | لمحه فکریه: | 63 |
| 36 | مآخذ او مصادر | 63 |

# پیش لفظ

علمِ تاریخ دَ تیرشوی وخت آئینه او دَ راتلونکی وخت یو رهنما دے. دَ قومی تعمیر وترقۍ په لړ کښې چۀ دے علم ته کوم اهمیت حاصل دے . هغه دَ فتح یو پوهه انسان نه پټ پناه نۀ دے . کۀ چرے دَ یو قوم ماضی ښائسته وی نو دَ هغوی حوصلے به اوچتے او ارادے به ئے لوړے وی او کۀ چرے دَ یو قدم افراد دَ خپلے ماضۍ نه ړاندۀ وی نو دَ هغوی مستقبل هیڅ کله نۀ شی روښانه کیدے .

دے وخت کښې چې عالمِ اسلام دَ کوم علمی او فکری زوال سره مخ دے د هغے مثال په تیر شوؤ صدو کښې په نظر نه راځی. کفری طاقتونه نۀ صرف په ویره وؤنکو اسلحو او معاشی طاقتونو سره په مونږ باندے حمله آور دی بلکې هغوی دَ نظر وفکر په میدانونو کښې هم زمونږ دَ نسلونو دَ گمراه کولو دپاره پوره تازه دم او بر سر پیکار دی.

په دغه سلسله کښې دَ دوی لوې هتهیار اسلامی تاریخ دے چې په خپله خوښه ئے مرتب کوی او بیائے مونږ ته رارسوی.

دَ مسلمانانو د زوال او دَ علمِ تاریخ انحطاط تقریباً یو ځایې شوے دے او هم په دے ډول سره دا خبره رښتیا ثابتیږی چې کوم قوم خپل تاریخ لره فراموش کړی نو دَ هغوی شناخت باقی نۀ پاتے کیږی . دَ تیرے شوؤ درے ، څلورو صدو راسې مونږه دَ نورو علومو په شان په علمِ تاریخ کښې هم دَ زوال ښکار شوی یو.

اصل کښې دَ تاریخ حفاظت کوؤنکی علماء کرام وو چې دَ څو صدو پورې محدثینو ، مفسرینو او فقهاؤ په دے فن کښې خصوصی

دلچسپي اخستے وه او ډیره زیاته ترقی ئے ورکړے وه خو بیا رو رو په تاریخ باندے دَ اسلامي طبقے نیوکه کمزورے شوه او درباری منشیاتو دَ اسلامی تاریخ نه هسې دَ لوبو یو ګوډاګے جوړ کړو بیا دَ هغوی شاګردان میدان ته راؤوتل کو مو چې سیکولر ذهن لرلو او بیا دَ دوی دَ وجے اسلامی تاریخ داسې پیمال کړے شو چې په تیرے شوؤ صدو کښې دهغے مثال موندل ګران دی او اوس هم په تاریخ باندې د سیکولر لابۍ اجاره داری ده . دوی په ظاهر کښې خو ځان ته غیر جانبدار وائی خو په حقیقت کښې دوی دَ اسلام سره د بدترینې دشمنۍ ثبوت ورکوی.

دَ تاریخ حلیه ورانول او اسلافُ لره بدنامول او دَ اسلام فاتحینُ لره راهزن ثابتولو دَ پاره دا خلق سخت کوشیشونه کوی . دے وجے د صحیح تاریخ نه په خلقو کښې غفلت پیدا کیږی او دَ هغے په ځاې یو غلط او متبادل تاریخ وجود اخلی لګیا دے.

عوام خو لا څهٔ کوې ، لوے لوے تعلیم یافته خلق دَ دوی دَ مکر وفریب ښکاره په نظر راځی او دَ دوی دَ غلط تاریخی زاویهٔ نګاه ترجمانی کوونکی جوړ شوی دی. دَ سیکولر مؤرخینو یوه پوره ډله موجود ده چې دَ هغوی نه په سوؤنو متاثره شوے نام نهاد سکالران او صحافیان نَن دَ اخباراتو په ذریعه دَ نوی نسل په ګمراه کولو کښې مصروف دی.

لهذا په دے حالاتو کښې دَ درے خبرو سخت ضرورت دے چې مسلمانان اهلِ علم خپله ذمه واری پوره کړی او یو جامع او تحقیقی تاریخ مرتب کړی چې د هغے په ذریعه دَ داسې قسمه ټولو شبهاتو ازاله

ممکن شی او ښهٔ او بد ټول ښکاره شی او یو مسلمان لره دَ اسلامی فکر ونظر سره آشنا کړے شی.

بنده دَ خپل بساط مطابق دا رساله په دے غرض مرتب کړے ده چې زمونږ نوجوان نسل ، خصوصاً طلبه او عموماً عام مسلمانان دَ خپل تاریخ نه او خاص کر دَ خپلو حکمرانانو نه په آسانه او مختصره طریقه باخبره شی.

زریرِ نظر کتاب کوم یو مستقل تاریخی کتاب نهٔ دے بلکې د مسلمانانو دَ سوؤنو کالو دَ دور حکومت تاریخی ترتیب او دورانیے یوه خاکه ده دے دپاره چې دَ مطالعه په دوران کښې ، مختلفو اَدوارو ته په ترتیب ورکولو کښې او دَ هغے دورانیه معلومولو کښې د غلط فهمو نه بچاؤ ممکن شی. په دے رساله کښې دَ ریاستِ مدینے نه واخله تر خلافت راشده ، بنو امیه ، بنو عباس ، خلافت عثمانیه ، خلافت هسپانیه پورې او دغه شان دَ نورو حکومتونو مثلاً مؤحدین ، صفوی ، باطنی ، خاندان غلامانْ ، خلجی ، تغلق ، سادات ، لودهی ، سوری او دَ مغل خاندانونو ادوار قلمبند کړے شوے دی.

دَ نورو مضامینو په نسبت تاریخ لره چونکه دَ یو خشك او ذهن باندې بوج راوستونکے مضمون په طور شهرت ورکړے شوے دے.

لهٰذا دَ لوستونکو دَ دل لګی برقرار ساتلو دپاره دَ دے خبرے اهتمام کړے شوے دے چې د هر عنوان لاندې دَ متعلقه دورِ حکومت دَ قیام مختصر غوندے پسِ منظر پیش کړے شی. دے دَ پاره چې په تسلسل سره دَ تاریخ امتِ مسلمه یوه اجمالی خاکه په آسانی سره ذهن نشین شی . مزید داچې په هر دور کښې د هغه وخت د خلیفه ، سلطان ،

حاکمِ وقت ، بادشاه یا حکمران نوم، دار الخلافه او دَ تخت نشینۍ تاریخ درج کړے شوے دے او په آخر کښې د سقوطِ بغداد نه تر خلافت عثمانیه پورې چې کوم زوال راغلے دے دَ هغے په اسبابو هم مختصراً رنړه اچولے شوےده .

دَ تاریخ مطالعه کوونکی قارئین کۀ چرے دَ مطالعے په دوران کښې دا رساله مخې ته کیږدی تو یقناً دَ تاریخ مختلفو ادوارو دَ اهمو واقعاتو سره جوړ پیدا کیدل او دَ هغے کافی حصه ذهن نشین کیدل به آسان شی او دا ګِله او شکوه به پوره حده پورې ختمه کړے شی چې تاریخ یاد نه پاتے کیږی او ډیر زر هیریږی.

# دَ ترقۍ نه زوال ته پرمختګ

په شپږمه عیسوی صدۍ کښې دَ مسلمانانو دَ عروج او دَ اسلامی ریاست دَ قیام نه مخکښې په مخ دَ زمکه باندې دَ باز نطینیانو (رومیانو) ، ساسانیانو ( ایرانیانو) ، چینیانو او هندوستانی سلطنتونو او حکومتونو سکه چلیده . دې سلطنتو به دَ خپل جغرافیائی حدودُ دَ زیاتولو دَ پاره ، زیات نه زیات وسائلو باندې دَ قبضے حاصلولو دَ پاره ، دَ مال وزر جمع کولو دَ پاره ، دَ خپل نحوت وسطوت برقرار ساتلو او په نورو خلقو باندې دَ برترۍ حاصلولو دَ پاره په یو بل حملے کولے . کله یو ته فتح نو بل ته شکست او کله به دَ دے برعکس نتیجه راؤتله په ملکونو باندې قبضه کول ، بادشاهانو ، وزیرانو او سپاهیانو لره قتلول ، دَ زنانو تقدس پیمال کول ، دَ هغوی عظمت په خورو کښې ملاوؤل ، دَ هغوی عزتونه تار تار کول، دَ هغوی آبرو او عزت سره لوبې کول . هغوی سره دَ ځناورو په شان سلوك کول او دَ هغوی دَ بے بسۍ مذاق پورته کول ، ماشومانو باندې بیګارونه کول ، بس دا هر څه دَ دوی کُل دنیا وه. بیا زما رب دَ انسانیت دَ تقدیر بدلولو فیصله اوکړه او دَ هدایت یو نمر ځلنده شو چې هغۀ په پوره آب وتاب سره دَ خلقو زړونه منور کړل او سترګے ئے ورله روښانه کړې او د هغے په نتیجه کښې په ړومبنی کال دَ هجرت ، په مطابقت دَ شپږ سوه اوؤ ویشتمه هجرۍ (٦٢٧ه) کښې دَ عربو دَ بے آب وګیاه صحراګانو او ریګستانونو نه راپورته کیدونکی .ټاټ نشینو خلقو دَ یو نخلستان په عین وسط کښې دَ خپل رهبر او رهنما ، محسن انسانیت خاتم الانبیاء حضرت محمد مصطفٰی صلی الله علیه وسلم په قیادت کښې یو اسلامی ریاست ته وجود ورکړو.

دَ امنِ عامه برقرار ساتلو دَ پاره ګير چاپيره قبائلو سره او نورو مذهبونو سره تعلق لرونكي اوسيدونكو سره باقاعده تحريري معاهدے اوكړے شوے، چې دَ هغے مندرجات نن هم عمراني معاهدو ته بنياد فراهم كولو دَ پاره كافي دي . هم دَ دغے رياست تسلسل لره ، سره دَ مختلف نشيب وفراز نه تر ديارلس (١٣) صدو پورې مسلمانانو برقرار اوساتلو او ډير په ښه طريقه ئے دغه ذمه واري تر سره كړه . تر دې چې دَ اندروني كمزورو او بيروني سازشونو په وجه په يكم نومبر ١٩٢٢ عيسوي كښې باقاعده دَ خلافت دَ خاتمے اعلان اوكړے شو او ٢٩ اكتوبر ١٩٢٤ عيسوي كښې جديد جمهوريه سيكولر تركى وجود ته راوستلے شو . ليكن دَ دے نه روستو هم دَ مختلفو خطو نه باشعوره او غيرتمندو مسلمانانو په مختلفو طريقو سره دَ خلافت دَ پاره آواز پورته كړو او دَ هغے دَ قيام دَ پاره ئے كوششونه اوكړل كوم چې تر اوسه پورې جاري دي او جاري به وي ان شاء الله ، څكه چې دَ الله تعالىٰ فرمان دے : الله تعالىٰ مؤمنانو او نيك عمل كوؤنكو سره وعده كوي چې مونږ به خواه مخواه دوی ته په زمكه كښې خلافت وركوؤ لكه څهٔ رنګ چې مونږ مخكينو قومونه ته وركړے وو او ضرور بالضرور به دَ دوی دَ پاره دَ دوی دين مطبوطه وو كوم چې هغوی ته خوښ دے او ضرور بالضرور به دَ دوی دَ ويرے حالت لره په امن سره بدلو ( چې دَ هغے نه روستو به دوی خالص ) زما عبادت ( په نظريه حيات او نظام حيات كښې زما تابعداری) كوی او زما سره به هيڅ څوك نهٔ شريكوی ، ليكن چا چې دَ دے نه پس هم نافرماني اوكړه . بس يقيناً دغه خلق فاسقان دی. (سورة النور :٥٥)

# زمونږ حکمرانی

اسلام او مسلمانانو په دنیا باندې ( ۱هنا تر ۱۳۴۲ ھ، بمطابق ۶۲۳ء تا ۱۹۲۴ء پورې) تقریباً دولس سوه کاله حکومت کړې دے.

## (دَ ریاست مدینې قیام )

دَ نبوت نه روستو خالی صحراګانو، ریګستانونو او هموار میدان کښې مسلسل دیارلس کاله دَ دعوت وتبلیغ کولو نه بعد دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته مدینې ته دَ هجرت کولو حکم ورکړے شو کوم ځاې کښې چې نبی کریم ﷺ دَ ریاست مدینې بنیاد کیخودو. دَ ړومبی سنِ هجری (بمطابق شپږ سوه درویشت عیسوی 623ء) نه واخله تر ماهِ ربیع الاول یوولسمی هجری (بمطابق جون شپږ سوه دوه دیرشتمې 632ء) پورې نبی کریم ﷺ په طور دَ یو سربراهِ مملکت خپل فرائض سر انجام کړل.

## (خلافت راشده )

دَ نبی کریم ﷺدَ دې دارِ فانی نه رحلت کولو نه پس دَ صحبتِ نبیﷺ نه براهِراست فیضیاب شوی جانثارانو دَ ریاستی نظم ونسق چلولو دَ پاره دَ نبی کریم ﷺ سخر او یارِ غار حضرت ابوبکر صدیق رضؓ لره دَ دې منصب دَ پاره مناسب بیا موندلو او د هغوی رضؓ په لاس باندې ټولو صحابه کرامو رضؓ بیعت اوکړو. دَ حضرت ابوبکر صدیق رضؓ دَ دور ( ربیع الاول یوولسمه هجری ) نه واخله تر حضرت عبد الله بن زبیر رضؓ دَ دور (یکم ربیع الثانی خلورشپیتمه هجری ) پورې یعنې تقریباً په نصف صدی باندې

مشتمل اسلامی ریاست کښې په طور دَ سربراهانِ مملکت خپل فرائض پوره کوؤنکی دَ صحابهٔ کرام رضی دې مجموعی دورانې ته په تاریخ کښې دَ خلافتِ راشده او خلافتِ صحابه په نوم سره یادولې شی.

دَ اکثرو علمائے کرامو په نیز دا دورانیه دَ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه نه شروع کیږی او په حضرت علی رضی الله تعالی عنه باندې اختتام پذیر کیږی. قرآنی ارشاداتو لره فوقیت ورکوؤنکی بعضې علمائے کرام دَ حضرت حسن بن علی رضی الله عنه ، سیدنا امیر معاویه رضی الله عنه او سیدنا عبد الله بن زبیر رضی الله عنه حکومتونو لره هم په خلافتِ راشده کښې شماری . البته دوی دې مجموعی دورانیے لره په دوؤ حصو کښې تقسیموی دَ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه نا تر حضرت علی رضی الله تعالی عنه پورې دې دور ته دَ دورِ عزیمت نوم ورکوی او دَ حضرت حسن بن علی رضی الله عنه نا تر حضرت عبد الله بن زبیر پورې دې دور ته دَ دورِ رخصت نوم ورکوی.

دَ حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه نه روستو دَ حضرت امیر معاویه رضی الله تعالی عنه ځوې یزید او دَ هغهٔ ځوې معاویه ثانی ابن یزید دَ دوی تعلق چونکه دَ ابوسفیان رضی الله عنه دَ خاندان سره دې . دې وجه نه په تاریخ کښې دَ دې دواړو حضراتو دورِ حکومت ته بعض اوقات دَ " اسفائیون " دورِ حکومت هم وئیلې شی.

دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ وصال نه روستو دَ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه نه دَ خلافت آغاز شوې وؤ کوم چې تر دیرشو کالو پورې جاری پاتې شوې وؤ او په دې کښې دَ حضرت عمر رضی

الله تعالی عنه ، حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه او حضرت علی رضی الله تعالی عنه نومونه شامل دی او دې سره سره دَ حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه سره د صلحې پورې دَ حضرت حسن رضی الله تعالی عنه مختصر دورِ اقتدار هم دَ دیرشو کالو په دې دائره کښې راځی. دَ دې نه بعد دَ حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه تر شلو کالو پورې دورِ خلافت دې. بیا دَ بنو امیه ، بنو عباس او بنو عثمان خلافتونه دی او په مینځ کښې دَ حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله تعالی عنه دورِ خلافت هم دې.

دَ خلافت راشده دور په دیرشو کالو کښې محصور ولې دې ؟ دَ حضرت امیر معاویه رضی الله تعالی عنه او دَ حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله تعالی عنه دَ خلافتونو شرعی مقام څهٔ دې؟ په دې باندې دَ اهل علمو دَ طرف نه خصوصی بحثونه شوی دی او دَ یو حده پورې اوس هم جاری دی لیکن دَ دې ټولو بحثونو نه قطع نظر زما طالبعلمانه نظریه دا ده چې دَ امت مسلمه دَ پاره حضرات صحابه کرام رض تر قیامته پورې اسؤه حسنه او معیار دې.

چونکه امت مسلمه په هر دور کښې عزیمت باندې دَ عمل کولو په پوزیشن کښی نهٔ شو کیدي. دے وجهے نه الله تعالی تکوینی طور باندي دَ عزیمت او رخصت دواړه دائرے او رخصت دواړو دائرې دَ حضرات صحابه کرام رض په دور کښې اوښودلې چې امت مسلمه په خپل خپل وختونو کښې دَ رهنمائۍ حاصلولو په بابت کښې دَ هیڅ قسمه مشکلاتو سره مخ نه شی.

دَ حضرات خلفائے راشدین اربعو دور ، دَ عزیمت دور وؤ او زمونږ دَ پاره آئیډیل وو او دَ حضرت امیر معاویه رض او عبد الله بن زبیر رض دَ خلافتونو

دور ، دَ رخصت دور بللې شی کوم چې دَ رخصت په دائره کښې تر قیامته پورې دَ امت مسلمه دَ پاره معیار او آئیډیل دې.

خلافت راشده تر دیرشو کالو پورې وؤ، دَ دې دا مطلب نهٔ دې چې ګینی دَ دې نه روستو خلافت ختم شوې وو بلکې اسلامی خلافت دَ دې نه روستو هم دَ بنو امیه ، بنو عباس او بنو عثمان دَ خلافتونو په شکل کښې تر ۱۹۲٤ء پورې راغلې دې. په دې خلافتونو کښې نشیب وفراز او ښکته والې ، بره والې اګر چه یقینی طور باندې راغلې دې لیکن بیا هم مجموعی طور باندې دَ خلافت تسلسل تر خلافت عثمانی پورې قائم پاتې شوې دې. په کوم یو خلافت چې هم دَ هغې دور دَ اهل علمو او امت مسلمه اجتماعی راې ته اعتماد حاصل شوې دې ، هغه دَ فقهی اصولو مطابق هم خلافت اسلامیه شمارلې شي.

خلافت راشده دَ اسلامی خلافت اعلی ترین معیار او ټائټل دې. بیا دې اعلی ترین معیار کښې څهٔ حده پورې کمې راغلې دې بلکې کهٔ چرې دَ شاه ولی الله ارشاد ته اوکتلې شې چې علیٰ منهاج النبوة یعنې دَ خلافت راشده دَ اعلیٰ ترین معیار دَ پاره چې کوم شرائط ضروری وو هغه په ړومبنو څلورو بزرګانو باندې پوره شوی دی. دَ هغې نه روستو دَ دغے شرائطو پوره موندل مثلاً دا چې هغوی دې براه راست دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په تربیت کښې پاتې شوې وی په روستو راتلونکو خلفاء کښې په دغه درجه کښې ممکن نهٔ وو لهٰذا دَ دې تعلق دَ یو شرعی ضابطې شره نهٔ دې بلکې دَ دې تعلق دَ الله تعالیٰ تکوینی نظام سره معلومیږی.

دَ حضرت شاه ولی الله رحمه دا هم وینا ده چې دَ خلافت راشده دور صرف هم دَ دیرشو کالو پورې کیدې شو ځکه چې دَ هغوی نه روستو په دغه شرائطو باندې پوره کیدونکی خلق نهٔ وو پاتې شوې. دَ دې نه روستو دَ

خلافت عامه دور وو په کوم باندې چې دَ خلافت راشده اطلاق خو نهٔ شی کیدې خو دَ دې دا مطلب هم نهٔ دې چې دا خلافتونه غیر اسلامی وؤ بلکې دغې خلافتونو لره امت مسلمه خپل خپل دور کښې تسلیم کړی دی او په دغې خلافتونو کښې دَ بنو امیه خلافت دې. دَ هغې نه روستو اموی خلیفه مروان ثاني نه عباسیانو خلافت په زبردستۍ حاصل کړو او امویه خاندان هسپانیه ته منتقل شو په کوم ځاې کښې چې هغوی تر اتهٔ سوو کالو پورې دَ خلافت جهنډا پورته کړې وه بیا دَ عباسیانو دَ خلافت آغاز دَ سفاح نه اوشو او تقریباً پنځو سوو کالو پورې دَ هغې تسلسل قائم وو تر دې چې دَ مستعصم بالله په دور کښې هلاکو خان په بغداد باندې حمله اوکړه او دې سره دَ بنو عباس دَ خلافت خاتمه اوشوه . بیا دې نه پس بنو عثمان دَ خلافت بیرغ پورته کړو او دا ترك وو چې الله تعالی دَ اسلام او مسلمانانو دَ خدمت دَ پاره منتخب کړې وو. سلطان عثمان اول په ۱۲۹۹ء کښې دَ بر سا په مقام باندې دَ خپل سلطنت دَ قیام اعلان اوکړو اوهم دَ هغهٔ په نوم باندې دې سلطنت خپل ځان ته نوم اوبخشهٔ او په مصر کښې چې کوم خلافت اسلامی باقی وو هغوی هم دَ دوی په حق کښې دَ دستبرداری اعلان کولو سره دَ عثمانیانو خلافت تسلیم کړو او سلطان محمد فاتح دَ قسطنطنیه فتح کولو سره هغې لره دَ عثمانی خلافت دار السلطنت جوړه کړه. دَ خلافت دا دور هم کم وبیش پنځوسوو کالو باندې محیط دې او دَ دې سلسلې آخری خلیفه سلطان عبد المجید مرحوم دې چې هغهٔ لره په ۱۹۲٤ء کښې دَ جدید ترکی بانی مصطفٰی کمال اتاترك جلا وطن کړو او دَ خلافت دَ خاتمې اعلان ئې اوکړو ( ریاست مدینه : علامه زاهد الراشدی)

# قیام ریاست

## حضرت سیدنا محمد الرسول صلی الله علیه وسلم بطور حکمران

(یکم هجرۍ نه تر ربیع الاول ۱۱هپورې بمطابق ۶۲۳ء نه تر جون ۶۳۲ء پورې)

# خلافت

خلیفه اول (خلیفة الرسول ) سیدنا ابوبکر صدیق رض ۱۱هبمطابق ۶۲۳ء

تر آخری خلیفه سلطان عبد المجید خان ثانی ۱۳۴۲ هبمطابق ۱۹۲۴ء پورې

# خلافت راشده

## (دورعزیمت )

| شماره | دَخلیفه نوم | دارالخلافه | آغاز خلافت (هجری و عیسوی میاشت او کال ) |
|---|---|---|---|
| 1 | سیدنا ابوبکر صدیق رض | مدینه منوره | ربیع الاول ۱۱ه بمطابق ۶۳۲ء |
| 2 | سیدنا عمر فاروق رض | مدینه منوره | ۲۲ جمادی الآخرة ۱۳ه بمطابق ۶۳۴ ء |
| 3 | سیدنا عثمان ذوالنورین رض | مدینه منوره | یکم محرم الحرام ۲۴ه بمطابق ۶۴۴ء |
| 4 | سیدنا علی المرتضی رض | کوفه | ۱۷ ذی الحجه ۳۵ه بمطابق ۶۵۶ء |

## (دوررخصت)

| شماره | دَخلیفه نوم | دارالخلافه | آغازخلافت<br>(هجری و عیسوی میاشت او کال) |
|---|---|---|---|
| 5 | سیدنا حسن بن علیؓ | کوفه | رمضان ٤٠ هبمطابق ٦٦١ء |
| 6 | سیدنا امیر معاویهؓ | دمشق | ربیع الاول ٤١ھ<br>بمطابق ٦٦١ء |
| 7 | سیدنا عبد الله بن زبیرؓ | مکه<br>مکرمه | یکم ربیع الثانی ٦٤ھ<br>بمطابق ٦٨٣ء |

## (اسفائیون)

| شماره | دَخلیفه نوم | دارالخلافه | آغازخلافت<br>(هجری و عیسوی میاشت او کال) |
|---|---|---|---|
| 8 | یزید بن امیر معاویهؓ | دمشق | رجب ٦٠ھبمطابق ٦٨٠ء |
| 9 | معاویه ثانی بن یزیدؓ | دمشق | څو ورځې ، څو میاشتې |

# خلافت بنو امیه (سلسله مروانی)

دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په شجرۀ نسب کښې په څلورم پشت کښې دَ عبد مناف نوم راځی کوم چې دَ قُصَی ځوې وو.

دَ عبد مناف په اولاد کښې امیه بن عبد الشمس چې پوره نوم ئې امیه بن عبد الشمس بن عبد مناف بن قصی القریشی دې. دَ دور نبوت نه مخکښې په مکه کښې دَ شهری ریاست په دوران کښې دَ سپه سالاری ذمه داری دَ امیه په حصه کښې راغله او دغه ذمه داری بیا دَ امیه ځوی حرب بن امیه ته او بیا ابوسفیان ته منتقل شوه او هم دَ دوی اولاد ته بنو امیه وئیلې شی . ابتداء کښې دا قبیله دَ اسلام مخالف وه ، دَ عقبه بن ابی معیط تعلق هم دَ دې قبیلې سره دې چا چې په بیت الله کښې دَ مانځه په دوران کښې دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په سټ مبارك کښې څادر اچولې وو او نبی صلی الله علیه وسلم ته ئې سخت تکلیف رسولې وو لیکن دَ اسلام راوړلو نه روستو دَ دې قبیلې په سوونو خلقو دَ اسلام دَ پاره قابلِ قدر خدمات سر انجام کړی دی. چې په هغوی کښې دَ ریاستِ مدینې دریم خلیفه حضرت عثمان بن عفان رضی ، ام المؤمنین ام حبیبه رضی ، ابو سفیان رضی ، معاویه بن ابی سفیان رضی ، سلیمان بن عبد الملك، عمر بن عبد العزیز وغیره دَ دوی نومونه ښکاره دی. دا په قریشو کښې یو امتیازی شان والا او دولتمنده قبیله وه . دَ مروان بن حکم تعلق هم دَ دې قبیلې یو شاخ بنو عاص سره وو چا چې باقاعده دَ خلافت بنو امیه بنیاد کیخودلې وو.

# خلافت بنو امیه (سلسله مروانی)

## ٦٤ هتا ١٢٧هبمطابق ٦٨٣ ء تا ٧٤٤ء

| شماره | دَخلیفه نوم | دار الخلافه | آغاز خلافت (هجری و عیسوی میاشت او کال) |
|---|---|---|---|
| 10 | مروان بن الحکم | دمشق | ٣ ذوالقعده ٦٤هبمطابق ٦٨٣ء |
| 11 | عبد الملك بن مروان | دمشق | ٢٧ رمضان ٦٥هبمطابق ٦٨٥ء |
| 12 | ولید اول بن عبد الملك | دمشق | ١٤شوال ٨٦هبمطابق ٧٠٥ء |
| 13 | سلیمان بن عبد الملك | دمشق | ١٥ جمادی الآخرة ٩٦ه بمطابق ٧١٥ء |
| 14 | عمر بن عبد العزیز | دمشق | ١٠ صفر ٩٩هبمطابق ٧١٧ء |
| 15 | یزید ثانی بن عبد الملك | دمشق | ٢٠ رجب ١٠١ هبمطابق ٧٢٠ء |
| 16 | هشام بن عبد الملك | دمشق | ٢٦ شعبان ١٠٥هبمطابق ٧٢٤ء |
| 17 | ولید ثانی بن یزید ثانی | دمشق | ٦ ربیع الثانی ١٢٥ه بمطابق ٧٤٣ء |
| 18 | یزید ثالث بن ولید ثانی | دمشق | ٢٧ جمادی الآخرة ١٢٦ه بمطابق ٧٤٤ء |
| 19 | ابراهیم بن ولید ثانی | دمشق | ٧ ذوالحجه ١٢٦ه بمطابق ٧٤٤ء |
| 20 | مروان ثانی بن محمد | دمشق | ١٤ صفر ١٢٧هبمطابق ٧٤٤ء |

دَ بنو امیه دا آخری خلیفه دې سن ١٣٢هکښې په مقام بوصیر (مصر) کښې په میدان جنګ کښې مړ کړې شو او هم دغه شان دَ بنو امیه دَ خلافت خاتمه اوشوه.

# سلسله خلافت بنو عباس(بغداد)

دَ اموی دور حکومت په آخری کالونو کښې دَ مختلفو وجوهاتو په بنیاد باندې مختلف شورشونه او بغاوتونه برپا کړې شو او په دوی کښې دوه ډلې ډیرې متحرکې وې چې دَ هغوی تعلق دَ بنو هاشم سره وو.

یوې ډلې حضرت علی رضؓ او دَ هغهٔ اولاد لره دَ خلافت حقداران ګڼړل او بلې ډلې دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ترهٔ دَ حضرت عباس رضؓ اولاد تخت خلافت ته رسوَل غوښتل . دَ هشام بن عبد الملك پورې دَ دې تولې کاروائی علم چاته نهٔ وو شوې. دَ مروان ثانی په دور کښې دَ عباسیانو دَ دې تحریك او جدوجهد انکشاف اوشو نو مروان ابراهیم بن محمد لره قتل کړو . ابراهیم دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ ترهٔ حضرت عباس رضی الله تعالی عنه دَ ځوی عبد الله دَ نمسی محمد بن علی مشر ځوی او جانشین وو، لهٰذا دَ ابراهیم بن محمد رور عبد الله بن محمد (کوم چې دَ ابو السفاح په نوم سره یادولې شی) دَ بنو امیه خلاف عَلَم بغاوت راپورته کړو او خپل آبائی مسکن ئې پریخودو او کوفې ته راغې او دَ ابو مسلم خراسانی او نورو سرګرمو خلقو سره ملو شو او په عراق ئې قبضه اوکړه او بالآخر په ربیع الاول ۱۳۲ه کښې دَ خپل خلافت اعلان اوکړو.

## سلسله خلافت بنو عباس (بغداد )

## 132ھ تا 656 ھ بمطابق 750ء تا 1258 ء

## خلافت عباسیه بغداد (دور اول )

| شماره | نام خلیفه | دار الخلافه | آغاز خلافت<br>هجری وعیسوی میاشت او کال |
|---|---|---|---|
| 21 | ابو العباس السفاح (عبد الله بن محمد العباس) | کوفه | 13 ربیع الاول 132ھ بمطابق 750ء |
| 22 | ابو جعفر منصور عبد الله بن محمد | بغداد | 6ذو الحجه **158**ھ بمطابق **754**ء |
| 23 | مهدی محمد بن منصور | بغداد | **6** ذو الحجه **158**ھ بمطابق **775**ء |
| 24 | هادی موسی بن مهدی | بغداد | **22**محرم **179**ھبمطابق **785**ء |
| 25 | هارون الرشید | بغداد | **16** ربیع الاول **170**ھ بمطابق **786**ء |
| 26 | امین محمد بن هارون الرشید | بغداد | **3**جمادی الآخرة **193**ھ بمطابق **809**ء |
| 27 | مامون عبد الله بن هارون الرشید | بغداد | **26**محرم **198**ھ بمطابق **813**ء |

| آغاز خلافت ہجری وعیسوی میاشت او کال | دارالخلافه | نام خلیفه | شماره |
|---|---|---|---|
| 16 رجب 218ھ بمطابق 833ء | بغداد | معتصم باللّٰه، محمد بن هارون الرشید | 28 |
| 18 ربیع الاول 227ھ بمطابق 842ء | بغداد | واثق باللّٰه هارون بن معتصم | 29 |
| 23ذو الحجه 232ھ بمطابق 847ء | بغداد | متوکل علی اللّٰه ابو الفضل جعفر بن معتصم | 30 |
| 4شوال 247ھبمطابق 861ء | بغداد | منتصر باللّٰه محمد بن متوکل | 31 |
| 3ربیع الثانی 248ھ بمطابق 862ء | بغداد | مستعین باللّٰه احمد بن محمد بن متوکل | 32 |
| 4محرم 252ھبمطابق 866ء | بغداد | معتز باللّٰه محمد بن متوکل | 33 |
| 27رجب 255ھ بمطابق 869ء | بغداد | مهتدی باللّٰه محمد بن واثق | 34 |
| 18رجب 256ھ بمطابق 870ء | بغداد | معتمد علی اللّٰه محمد بن متوکل | 35 |

## خلافت عباسیه بغداد (دور دوم)

ابو العباس احمد المعتضد بالله د عباسی سلطنت لسم خلیفه د المتوکل علی الله نمسي او د پنځلسم خلیفه المعتمد علی الله ورارۀ وو.

د معتضد پلار ابو احمد الموفق وفات شوې وو او د هغه نه روستو د معتمد د ځوی د جعفر ولی عهد جوړیدل یقینی وو، لیکن معتمد د ولی عهدۍ د پاره خپل وراره احمد ته په خپل ځوی جعفر باندې فوقیت ورکړو او د محرم په میاشت سن **269** هجرۍ کښې هغه ولی عهد مقرر کړې شو او بیا یو څو میاشتې روستو د رجب په میاشت کښې د معتمد انتقال اوشو.



## خلافت عباسیه بغداد (دور دوم)



| شماره | نام خلیفه | دار الخلافه | آغاز خلافت<br>هجری وعیسوی میاشت او کال |
|---|---|---|---|
| 36 | المعتضد بالله احمد بن<br>موفق بن متوکل | بغداد | **20** رجب **279**ھ<br>بمطابق **892**ء |
| 37 | مکتفی بالله<br>(علی بن معتضد) | بغداد | **22**ربیع الثانی **289**ھ<br>بمطابق **902**ء |
| 38 | مقتدر بالله<br>جعفر بن معتضد | بغداد | **12** ذی القعده **295**ھ<br>بمطابق **908**ء |
| 39 | قاهر بالله<br>محمد بن معتضد | بغداد | **27**شوال**320**ھ بمطابق **932**ء |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 40 | راضی باللہ<br>محمد بن معتضد | بغداد | **6جمادی الاولی 322ھ**<br>**بمطابق 934ء** |
| 41 | متقی للہ<br>ابراھیم بن مقتدر | بغداد | **20ربیع الاول 329ھ**<br>**بمطابق 940ء** |
| 42 | مستکفی باللہ<br>عبد اللہ بن مکتفی | بغداد | **20صفر 333ھبمطابق 944ء** |
| 43 | مطیع اللہ<br>فضل بن مقتدر | بغداد | **12جمادی الآخرۃ 334ھ**<br>**بمطابق 945ء** |
| 44 | طایع اللہ،<br>عبد الکریم بن مطیع | بغداد | **13ذو القعدہ 363ھ**<br>**بمطابق 974ء** |
| 45 | قادر باللہ احمد بن<br>مقتدر | بغداد | **19رجب 381ھ**<br>**بمطابق 991ء** |
| 46 | قایم بأمر اللہ<br>عبد اللہ بن مقتدر | بغداد | **13شعبان467ھ**<br>**بمطابق 1075ء** |
| 48 | مستظہر باللہ<br>احمد بن مقتدی | بغداد | **15محرم 487ھ**<br>**بمطابق 1084ء** |
| 49 | مسترشد باللہ<br>فضل بن مستظہر | بغداد | **16ربیع الثانی 512ھ**<br>**بمطابق 1118ء** |
| 50 | راشد بأمر اللہ<br>بن مستظہر | بغداد | **17ذی القعدہ 529ھ**<br>**بمطابق 1135ء** |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 51 | مقتفی لامر اللّٰه محمد بن مستظهر | بغداد | **18**ذی القعده **530**ھ بمطابق **1136**ء |
| 52 | مستنجد باللّٰه یوسف بن مقتفی | بغداد | **2** ربیع الاول **555** ھ بمطابق **1160**ء |
| 53 | مستفئ بأمر اللّٰه ابو محمد حسن بن مستنجد | بغداد | **9** ربیع الثانی **566**ھ بمطابق **1170**ء |
| 54 | ناصر الدین اللّٰه احمد بن مستفئ | بغداد | **2** ذو القعده **575**ھ بمطابق **1180**ء |
| 55 | ظاهر بأمر اللّٰه محمد بن ناصر | بغداد | **30** رمضان **622**ھ بمطابق **1225**ء |
| 56 | مستنصر باللّٰه منصور بن ظاهر | بغداد | **14**رجب **623** ھ بمطابق **1226**ء |
| 57 | مستعصم باللّٰه عبد اللّٰه بن مستنصر | بغداد | **10**جمادی الاخرة **640**ھ بمطابق **1242**ء |
| 58 | د خلافت خاتمه | بغداد | **14**صفر **656**ھ بمطابق **1258**ء |

هلاکو خان د عباسی وزیر ابن علقمی او د نصیر الدین طوسی د حرص او غدارۍ کولو په وجه بغداد فتح کړو او خلیفه مستعصم باللّٰه ئې شهید کړو او په دې طریقې سره د خلافت خاتمه اوشوه.

## خلافت عباسیه بغداد (دریم دور، مصر)

مستعصم په بغداد کښې د عباسی دور حکومت آخری خلیفه وو، عباسی سلطنت خپلې آخری ساه ګانی اخستې، لیکن د خلافت تسلسل بیا هم باقی وو.

په **9** محرم الحرام **256** هجری بمطابق **17** جنوری **1258**ء باندې تاتاریانو د نویان په قیادت کښې نهر دجله عبور کړه او دلته د هغوی مقابله د بغداد د فوج سره اوشوه، ډیر سخت جنګ اوشو لیکن د الله تعالی نصرت شامل حال وو او بالآخر تاتاریان اوتختیدل.

دوه ورځې پس تاتاریانو دوباره د بغداد ښار محاصره اوکړه او د منجنیقونو په ذریعه سنګ باری اوکړې شوه پے درپے غشی او ورولی شو او **22** محرم باندې باقاعده حمله اوکړې شوه او درې ورځې پس تاتاریانو په مغربی فصیل باندې حمله اوکړه.

خلیفه د ابن علقمی نه مشوره طلب کړه نو هغه ورته په جواب کښې دا اوئیل «چې جی تاسو تاتاریانو سره جنګ مه کوئ او مصلحت هم په دې کښې دې چې فی الحال مونږ تاتاریانو ته خپلې دروازې کهولاؤ کړو.

هلاکو خان هم د خلیفه نه مطالبه اوکړه چې مسلح عوام او فوج دې خپل هتیار اوغورځوی.

بس څنګه چې مسلح خلقو سر تسلیم خم کړو او د ښار نه بهر وتل شروع شو نو تاتاریانو به یو یو فرد ګیره ؤ او قتل کوو به ئې.

په دويم صفر باندې د بغداد په جامع مسجد کښې خطبه اووئيلې شوه چې د خطبې آغاز خطيب صاحب په دې الفاظو سره اوکړو ټول تعريفونه هغه ذات د پاره دی چې د مرګ په ذريعه ئې د پخو عمارتنو جوړولو والا منهدم کړل او چاچې ددې ښار يې د خلقو د فنا کولو فيصله کړې ده.

د مسلسل قتل وقتال او لوټ مار نه بعد د صفر المظفر په دويم تاريخ هلاکو خان په خپل اس باندې سور قصر خلافت ته داخل شو او د عباسی سلطنت نمر غروب شو.

د لته نه چې کوم عباسی شهزادګان بچ شو هغوی د قاهرې طرف ته روان شو او دغه شان تر درې نيم کالو پورې خلافت د تعطل ښکار وو، ليکن بالآخر په ۲۵۹ هجرۍ کښې خلقو د يو عباسی شهزاده مستنصر بالله په لاس باندې بيعت اوکړو او په قاهره کښې بيا عباسی خلافت قايم کړو او دغه رنګ دوباره خلافت بحال کړې شو.

اقبال رحمه الله په ځاې وئيلی دی:

*جہاں میں اہل ایماں صورت خورشید جیتے ہیں*
*ادہر ڈوبے ادہر نکلے ادہر ڈوبے ادہر نکلے*

يعنې دنيا کښې اهل ايمان په مثل د نمر زندګی تيروی دلته ډوب شی نو هلته ښکاره شی او هلته ډوب شی نو دلته ښکاره شی.

په ۹۲۳ هجری بمطابق ۱۵۱۷ء کښې ترک عثمانی سلطان سليم اول مصر لره فتح کړو او خليفه متوکل ثالث ئې ځان سره قسطنطنيه ته بوتلو.

او متوکل د علماء او قاضيانو په مخکښې د سليم په لاس باندې بيعت اوکړو او خلافت ئې سلطان سليم اول ته حواله کړو.

## خلافت عباسیه (دویم دور مصر)

**659ھ تا 923ھ بمطابق 1260ء تا 1517ء**

د خلافت عباسیه بغداد د خاتمې نه تقریبا درې نیم کاله پس په قاهره مصر کښې د المستنصر بالله په لاس باندې بیعت اوشو.

| شماره | نام خلیفه | دار الخلافه | آغاز خلافت<br>هجری وعیسوی میاشت او کال |
|---|---|---|---|
| 59 | مستنصر بالله ابو قاسم<br>احمد بن ظاهر | القاهره | **13** رجب **659**ھ<br>بمطابق **1260**ء |
| 60 | حاکم بأمر الله (اول)<br>احمد بن الحسن | القاهره | **8** محرم **661**ھ<br>بمطابق **1263**ء |
| 62 | واثق بالله (اول) ابراهیم | القاهره | **6** ذی القعده **740**ھ<br>بمطابق **1339**ء |
| 63 | حکم بأمر الله (ثانی)<br>احمد بن مستکفی | القاهره | **21** ذی الحجه **740**ھ |
| 64 | معتضد بالله (اول)<br>ابوبکر بن مستکفی | القاهره | جمادی الاخره **753**ھ<br>بمطابق **1352**ء |
| 65 | متوکل علی الله (اول)<br>محمد بن معتضد | القاهره | جمادی الاولی **763**ھ<br>بمطابق **1352**ء |
| 66 | معتصم زکریا<br>بن واثق اول | القاهره | ربیع الاول **779**ھ<br>بمطابق **1377**ء |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 67 | متوکل اول (دوبارہ) | القاھرہ | ربیع الثانی **779ھ**<br>بمطابق **1377ء** |
| 68 | واثق ثانی<br>(عمربن واثق اول) | القاھرہ | رجب **785 ھ**<br>بمطابق **1383ء** |
| 69 | معتصم (دوبارہ) | القاھرہ | **19**شوال **788ھ**<br>بمطابق **1385ء** |
| 70 | متوکل (سہ بارہ ) | القاھرہ | **10**جمادی الاولی **791ھ**<br>بمطابق **1388ء** |
| 71 | مستعین باللہ<br>(عباس بن متوکل) | القاھرہ | رجب **808ھ**<br>بمطابق **1405ء** |
| 72 | معتضد ثانی<br>(داؤد بن متوکل) | القاھرہ | **16** ذی الحجہ **816 ھ**<br>بمطابق **1414ء** |
| 73 | مستکفی ثانی<br>(سلیمان بن متوکل) | القاھرہ | **4**ربیع الاول **845ھ**<br>بمطابق **1441** |
| 74 | قایم بأمر اللہ<br>(حمزہ بن متوکل) | القاھرہ | محرم **855ھ**بمطابق **1451ء** |
| 75 | مستنجد باللہ<br>(یوسف بن متوکل) | القاھرہ | رجب **859ھ**<br>بمطابق **1455ء** |
| 76 | متوکل ثانی<br>عبد العزیز بن مستعین | القاھرہ | **26** محرم **884 ھ**<br>بمطابق **1479ء** |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 77 | مستمسک باللہ<br>یعقوب بن متوکل ثانی | القاہرہ | صفر **903**ھبمطابق **1497**ء |
| 78 | متوکل باللہ (الثالث)<br>بن مستمسک | القاہرہ | **922**ھبمطابق **1516**ء |
| 79 | مستمسک (دوبارہ) | القاہرہ | **922**ھبمطابق **1566**ء |
| 80 | متوکل ثالث (دوبارہ | القاہرہ | **923**ھبمطابق **1517** ء |

## سلجوقی سلطنت

د دولت آل سلجوق تاریخ، د اسلام د عظمت او بزرګۍ د انتهائی اهم دور تاریخ دی.

د دولت عباسیه د زوال نه بعد کوم سلطنت چې د ممالک اسلامیه اکثرې حصې لره په یو مرکز باندې راجمع کړه هغه هم د اسلجوقی سلطنت وو ځکه دې سلطنت د چین د سرحد نه واخله تر بحر ابیض د سواحل پورې او د عدن نه واخله تر خوارزم او بخارا پورې، ټول مسلمان قومونه ئې یو کړل او د ایشیا هغه بهترین خطې لره کومه چې په هغه دور کښې نه صرف د اسلامی تهذیب بلکې د ټول عالم د تهذیب علمبرداره وه ئې د سیاسی انتشار او پراګندګۍ د حالت نه راوویسته او د دې قابله ئې جوړه کړه چې د انسانی تمدن په تعمیر کښې خپله پوره حصه واچوی.

د دې عهد آغاز د پنځمې صدۍ هجری د ابتداء نه کیږی او تقریبا کم وبیش تر درې سوو کالو پورې دا سلجوقی سلطنت قائم وو.

په دوی کښې طغرل، سلطان الپ ارسلان، ملک شاه، برقیارن، محمد او سنجر فرمنروا وو او د دوی مشهور وزیر اعظم خواجه نظام الملک وو.

د تاریخ په ژبه دې خلقو ته سلاجقه عظام وئیلی شي، د دوی نه روستو سلجوقي سلطنت منتشر کیږي او په مختلف اسلامي ممالک باندې څه سلجوقي غلام او څه سلجوقي شهزاده ګان خپل خود مختاره ریاستونه قائموي.

په دې کښې خالص سلجوقي ریاستونه کرمان، عراق، شام او روم وو چې هغې ته علی الترتیب سلاجقه کرمان، سلاجقه عراق، سلاجقه شام او سلاجقه روم وئیلی شي، دا ټول ریاستونه د سلاجقه عظام په دور کښې د مختلفو تاریخونو نه شروع کیږي او بیا په مختلفو تاریخونو باندې ختمیږي هم.

## د کوم کیفیت چې د لاندیني نقشې نه معلومیدې شي.

| | |
|---|---|
| سلاجقه کرمان | **433**هجری بمطابق **1041**عیسوی<br>تا **583**هجری بمطابق **1187**ء |
| سلاجقه شام | **487**هبمطابق **1094**ء تا **511**هبمطابق **1194**ء |
| سلاجقه عراق وکردستان | **511**هبمطابق **1117**ء تا **590**هبمطابق **1194**ء |
| سلاجقه روم | **570**هبمطابق **1171**ءتا **700**هبمطابق **1300**ء |

# مرکزی سلجوقی سلاطین

| نوم | خطاب | تاریخ حکومت |
|---|---|---|
| الپ ارسلان | سلطان | **1063 تا 1072** |
| طغرل | بیګ | **1016 تا 1063** |
| ملک شاه (اول) | سلطان جلال الدولة | **1072 تا 1092** |
| محمود بن ملک شاه | سلطان ناصرالدین والدنیا | **1092 تا 1094** |
| برقیارق بن ملک شاه | سلطان ابو المظفر<br>رکن الدنیا والدین | **1094 تا 1105** |
| ملک شاه (دوم) | سلطان معز الدین | **1105** |
| ملک محمد تپار | سلطان غیاث الدین والدنیا | **1105 تا 1118** |
| احمد سنجر | سلطان معز الدین | **1118 تا 1153** |

د محمد تپار ځوی محمود بن محمد تپار احمد سنجر لره د بادشاه تسلیمولو نه انکار اوکړو او په بغداد کښې ئې دار الحکومت قائم کړو او پخپله سلطان جوړ شو خو په **1131** کښې احمد سنجر دهٔ لره د مخې نه لرې کړو.

# سلجوقی سلاطین کرمان

## 1041 تا 1187 ء

| نمبر شمارہ | نام | تاریخ حکومت |
|---|---|---|
| 1 | قاورد | **1041**ء تا **1073**ء |
| 2 | کرمان شاہ | **1073**ء تا **1074**ء |
| 3 | سلطان شاہ | **1074**ء تا **1075**ء |
| 4 | حسین عمر | **1075**ء تا **1084**ء |
| 5 | توران شاہ اول | **1084**ء تا **1096**ء |
| 6 | ایران شاہ | **1096**ء تا **1101**ء |
| 7 | ارسلان شاہ اول | **1101**ء تا **1142**ء |
| 8 | محمد اول | **1142**، تا **1156**ء |
| 9 | طغرل شاہ | **1156**ء تا **1169**ء |
| 10 | بہرام شاہ | **1169**ء تا **1174**ء |
| 11 | ارسلان شاہ ثانی | **1174**ء تا **1176**ء |
| 12 | توران شاہ ثانی | **1176**ء تا **1183**ء |
| 13 | محمد ثانی | **11836**ء تا **1187**ء |

| سلجوقی سلاطین شام<br>1085ء تا 1123ء | | |
|---|---|---|
| 1 | ابو سعید تاج الدولہ توتش اول | 1085ءتا 1086ء |
| 2 | جلال الدولہ ملک شاہ اول | 1086ء تا 1078ء |
| 3 | قاسم الدولہ ابو سعید | 1087ء تا 1094ء |
| 4 | ابو سعید تاج الدولہ توتش اول( دویم حُل) | 1094ء تا 1095ء |
| 5 | فخر الملک ردوان | 1095تا 1113ء |
| 6 | تاج الدولہ الپ ارسلان الاخرس | 1113ء تا 1114ء |
| 7 | سلطان شاہ | 1114ء تا 1123ء |

| سلاطین سلاجقہ روم(اناطولیہ )<br>1077ء تا 1307ء | | |
|---|---|---|
| 1 | التتمش | 1060ء تا 1077ء |
| 2 | سلیمان بن التتمش | 1077ء تا 1086ء |
| 3 | داؤد قلج ارسلان اول | 1092ء تا 1107 |
| 4 | ملک شاہ | 1107تا 1116ء |
| 5 | رکن الدین مسعود | 1116ء تا 1156ء |
| 6 | عز الدین قلج ارسلان ثانی | 1156ء تا 1192ء |
| 7 | د غیاث الدین خسرو اول | 1192ء تا 1196ء |
| 8 | سلیمان ثانی | 1196ء تا 1204ء |
| 9 | قلج ارسلان (دریم) | 1204ء تا 1205 |
| 10 | د غیاث الدین خسرو اول (دویم ځل) | 1205ء تا 1211ء |
| 11 | عز الدین قیقاس اول | 1211ء تا 1220ء |
| 12 | علاؤ الدین کیقباد اول | 1220ء تا 1237ء |
| 13 | د غیاث الدین خسرو دویم | 1237ء تا 1246ء |
| 14 | عزالدین کیقاس ثانی | 1246ء تا 1260ء |
| 15 | رکن الدین قلج ارسلان ثانی | 1249ء تا 1257ء |
| 16 | د غیاث الدین خسرو ثانی (دویم ځل) | 1257ء تا 1259ء |

| | | |
|---|---|---|
| 17 | د غیاث الدین خسرو دریم | **1265**ء تا **1282**ء |
| 18 | غیاث الدین مسعود ثانی | **1282**ء تا **1284**ء |
| 19 | علاؤ الدین کیقباد سوم | **1284**ء |
| 20 | غیاث الدین مسعود ثانی (دویم ځل) | **1284**ء تا **1293** |
| 21 | علاؤ الدین کیقباد سوم (دریم ځل) | **1293**ء تا **1294**ء |
| 22 | غیاث الدین مسعود ثانی (دریم ځل) | **1294**ء تا **1301**ء |
| 23 | علاؤ الدین کیقباد سوم (دریم ځل) | **1301**ءتا **1303**ء |
| 24 | غیاث الدین مسعود ثانی (څلورم ځل) | **1303**ء تا **1307**ء |
| 25 | غیاث الدین مسعود سوم | **1307**ء |

## سلطنت عثمانیه

رکن الدین ابو طالب محمد بن میکائیل د سلجوقیانو ړومبنۍ باقاعده سلطان منلی شی، څکه هغه منتشر قبائل متحد کړل او د سلجوق سلطنت بنیاد ئې کیخودو.

په **641** هجرۍ کښې د علاؤ الدین کیقباد د څوی او د سلجوقی سلطنت د آخری سلطان غیاث الدین خسرو ثانی او د تاتاریانو د فوج قیادت کوونکی نویان تر مینځه په محرم الحرام کښې سخت جنګ اوشو، چې پکښې سلجوقیانو ته شکست ورکړې شو او ټول سلطنت د تاتاریانو لاس ته ورغې.

تقریبا درې کاله روستو په **644** هجری بمطابق ۱۲۳٦ عیسوۍ کښې خسرو ثانی وفات شو، په دغه زمانه کښې د سلیمان شاه د څوی ارطغرل «سګود» چې ورته سخوت هم وئیلې کیږې، یو جاګیر وو کوم لره چې د غیاث الدین خسرو ثانی پلار علاؤ الدین کیقباد دۀ ته د دۀ د بهادرۍ مړانې او د منګولیانو په خلاف د سلجوقی افواجو د امداد کولو په نتیجه کښې ورکړې وو.

ارطغرل نۀ صرف د خپل جاګیر په ښه طریقې سره حفاظت اوکړو بلکې ورسره ئې نورې علاقې هم فتحه کړې او د سلجوقی سلطنت په نیابت کښې ئې په درې ضعلو باندې مشتمل د یو ریاست بنیاد کیخودو، کوم لره

چې روستو د ارطغرل ځوی عثمان نور هم وسعت ورکړو او خپل حکومت ئې نور هم مستحکم کړو او دغه شان ئې د سلطنت عثمانیه بنیاد کیخودو.

## سلطنت عثمانیه ( نهه سلاطین )

| شماره | نام خلیفه | آغاز خلافت هجری وعیسوی میاشت او کال |
|---|---|---|
| 1 | سلطان عثمان خان<br>بن ارطغرل بن سلیمان شاه | 687هبمطابق 1288ء |
| 2 | سلطان اورخان بن عثمان | 726هبمطابق 1326ء |
| 3 | سلطان مراد اول | 760هبمطابق 1359ء |
| 4 | سلطان بایزید اول (یلدرم) | 791هبمطابق 1389ء |
| 5 | سلطان محمد اول چلپي | 816ء بمطابق 1413ء |
| 6 | سلطان مراد ثانی | 824هبمطابق 1421ء |
| 7 | سلطان محمد ثانی الفاتح (سرفاتح) | 855هبمطابق 1451ء |
| 8 | سلطان با یزید ثانی | 886هبمطابق 1481ء |
| 9 | سلطان سلیم اول<br>( او روستو بیا ړومبي عثمانی خلیفه) | 918هبمطابق 1512ء |

**خلافت عثمانیه (یوکم دیرش خلفاء)**

**923هـ تا 1342هـ بمطابق 1517ء تا 1924ء**

سلطان سلیم اول مصر فتحه کړو او د مصر عباسی خلیفه متوکل ثالث د سلیم اول په لاس باندې بیعت اوکړو او خلافت ئې ورته حواله کړو.

نو دغه شان سلطنت عثمانیه، په خلافت عثمانی سره بدل شو او سلطان سلیم اول ړومبې عثمانی خلیفه جوړ شو.

**یوکم دیرش عثمانی خلفاء**

| شماره | نام خلیفه | دار الخلافه | آغاز خلافت هجری وعیسوی میاشت او کال |
|---|---|---|---|
| 1 | ړومبنې عثمانی خلیفه سلیم خان اول بن با یزید ثانی | استنبول | 923هـ بمطابق 1517ء |
| 2 | سلیمان بن سلیم اول (سلیمان القانون) | استنبول | 15شوال 926هـ بمطابق 1520ء |
| 3 | سلیم ثانی بن سلیمان القانونی | استنبول | 8 ربیع الاول 974هـ بمطابق 1566ء |
| 4 | مراد ثالث بن سلیم ثانی | استنبول | 7 رمضان 982هـ بمطابق 1574ء |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 5 | محمد ثالث بن مراد ثالث | استنبول | 9جمادی الآخرة 1003 ھبمطابق 1595ء |
| 6 | احمد اول بن محمد ثالث | استنبول | 17رجب 1026 ھ بمطابق 1617ء |
| 8 | عثمان ثانی بن احمد اول | استنبول | یکم ربیع الاول 1027ھبمطابق 1618ء |
| 9 | مراد رابع غازی بن احمد اول | استنبول | 13ذی القعدہ 1032 ھبمطابق 1623ء |
| 10 | ابراهیم اول بن احمد اول | استنبول | یکم ذی القعدہ 1049ھبمطابق 1640ء |
| 11 | محمد رابع اوصی بن ابراهیم | استنبول | یکم شعبان 1058ھ بمطابق 1648ء |
| 12 | سلیمان ثانی بن ابراهیم | استنبول | 2محرم 1099ھ بمطابق 1687ء |
| 13 | احمد ثانی بن ابراهیم | استنبول | 26 رمضان 1102ھ بمطابق 1691ء |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 14 | مصطفی ثانی بن محمد رابع | استنبول | 9جمادی الاخرۃ 1106ھبمطابق 1694ء |
| 15 | احمد ثالث بن محمد رابع | استنبول | 23شعبان 1115ھ بمطابق 1703ء |
| 16 | محمود اول بن مصطفی ثانی | استنبول | 11 ربیع الاول 1443ھبمطابق 1730ء |
| 17 | عثمان ثالث بن مصطفی ثانی | استنبول | 23صفر 1168ھ بمطابق 1754ء |
| 18 | مصطفی ثالث بن احمد ثانی | استنبول | 28 ربیع الاول 1171ھبمطابق 1787ء |
| 19 | عبد الحمید اول بن احمد | استنبول | 8شوال 1187ھ بمطابق 1787ء |
| 20 | سلیم ثالث بن مصطفی | استنبول | 11 رجب 1203 ھ بمطابق 1779ء |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 21 | مصطفى رابع<br>بن عبد الحميد اول | استنبول | 1222هبمطابق<br>1807ء |
| 22 | محمود ثانى<br>بن عبد الحميد اول | استنبول | 1223هبمطابق<br>1808ء |
| 23 | عبد المجيد اول<br>بن محمود معمار حرم | استنبول | 25 ربيع الثانى<br>1255هبمطابق<br>1839ء |
| 24 | عبد العزيز<br>بن محمود معمار حرم | استنبول | 15ذى الحجه 1277ه<br>بمطابق 1861ء |
| 25 | مراد خامس<br>بن عبد المجيد اول | استنبول | 5جمادى الاخرة<br>1293هبمطابق<br>1876ء |
| 26 | عبد الحميد ثانى<br>بن عبد المجيد اول | استنبول | 10شعبان 1293 ه<br>بمطابق 1876ء |
| 27 | محمد خامس رشاد<br>بن عبد المجيد | استنبول | 6ربيع الثانى 1327 ه<br>بمطابق 1909ء |

| | | | |
|---|---|---|---|
| **28** | محمد سادس وحید الدین<br>بن عبد المجید | استنبول | **23** رمضان **1336** ھ<br>بمطابق **1922**ء |
| **29** | عبد المجید ثانی<br>بن عبد العزیز | استنبول | ربیع الاول **1341**ھ<br>بمطابق **1922** |
| **30** | معزولی عبد المجید | استنبول | **1342**ھبمطابق<br>**1924**ء |

په **29**اکتوبر **1924**ء باندې ترکی حکومت جمهوریه او ګرځولې شو او په **3** مارچ **1925**ء باندې د ترکی خلافت لره قانونی طور باندې مصطفی کمال ختم کړو.

## خلافت هسپانیه (اندلس)

په **92**هجری بمطابق **711** عیسوی کښې طارق بن زیاد د اندلس څه علاقې فتحه کړې.

او بیا روستو لږه لږه موده پس مسلمانان جرنیلان راتلل شروع شو، تر دې چې د **138** هجری آخر پورې ټول اندلس فتحه شو او امراء بنو امیه د دې انتظام سنبهال کړو.

مسلمانانو د براعظم یورپ په مغربی طرف باندې موجود جزیره غائبیر یا باندې تقریبا اتۀ سوه کاله حکومت کړې دې، کومه چې نن سپین پرتګال او جدید فرانس باندې مشتمل علاقه ده.

په اسلامی تاریخ کښې دا ملک د اندلس په نوم سره یادولې شی او دیته مسلم هسپانیه او اسلامی آئبیریا هم وئیلی شی.

دا خلیفه ولید بن عبد الملک په دور کښې د خلافت بنی امیه یوه صوبه وه موسی بن نصیر کوم چې د خلیفه د طرف نه د شمالی افریقې ګورنر مقرر کړې شوې وو، هغه خپل جنریل طارق بن زیاد لره په سن **92**هجری بمطابق **711** عیسوی کښې د اوو زره لښکر سره په هسپانیه باندې د لښکر کشئ دپاره اولیږلو او هلته کښې د هغه مقابله د هسپانیه د حکمران د را ډرک د یو لاکهـ فوج سره اوشوه.

درې ورځو پورې مسلسل جنګ اوکړې شو خو د فتح څه اثار ښکاره نه شو نو په څلورمه ورځ طارق بن زیاد خپل لښکر راجمع کړو او

خطبه ئې اولوستله او وې وئيل ائ خلقو ستاسو شاته سمندر او مخې ته دشمن دې.

دې وجې نه د تيختې هيڅ لاره نشته په خداې مې دې قسم وی چې د ثابت قدمۍ او صبر نه علاوه تاسو سره دويم څه اپشن نشته.

لهذا مسلمانان ډير په مړانې سره اوجنګيدل چې د هغې په نتيجه کښې په **19**جولائی **711**عيسوۍ مسلمانانو هسپانوی فوج ته ماتې ورکړه.

د اکتوبر په مياشت کښې مزيد پيش قدمۍ کولو سره مغيث رومی شهر قرطبه لره هم فتحه کړو دې نه پس اشبيليه طيطله او څه نور ښارونه هم فتحه کړې شو.

تر دې چې په هسپانيه باندې مسلمانانو خپل بيرغ اولګولو په **132**هجری کښې د بنو اميه خلافت ختم شو او بنو عباس بر سر اقتدار شول او بيا کله چه دوی د بنو اميه د شاهی خاندان افراد ګيرول او قتلول شروع کړل نو په دغه کسانو کښې څه افراد په بچ کيدو کښې کامياب شو.

چې په هغوی کښې د هشام بن عبد الملک شل کلن ځوان نمسی عبد الرحمن الو ئی هم شامل وو، تاريخ دې کس لره د عبد الرحمن الداخل په نوم سره هم پيژنی کوم چې د مسلم هسپانيه ړومنې مسلم حکمران جوړ شو.

او بيا دهٔ د **756** عيسوۍ نه واخله تر **788**عيسوی پورې تقريبا دريوشت (**23**)کاله حکومت اوکړو.

په 929عیسوی کښې عبد الرحمن الناصر د خلافت هسپانیه نه جدا شو او د خلافت قرطبه په نوم ئې د خپل یو مستقل حکومت بنیاد کیخودو او هم هغه ئې ړومبنې خلیفه جوړ شو.

| شماره | نام خلیفه | دارالخلافه | آغاز خلافت هجری وعیسوی میاشت او کال |
|---|---|---|---|
| 1 | عبد الرحمن الداخل | قرطبه | 138ھبمطابق 756ء |
| 2 | هشام اول بن عبد الرحمن الداخل | قرطبه | 172ھبمطابق 788ء |
| 3 | الحکم الاول بن هشام اول | قرطبه | 186ھبمطابق 796ء |
| 4 | عبد الرحمن ثانی بن الحکم الاول | قرطبه | 206ھبمطابق 822ء |
| 5 | محمد اول بن عبد الرحمن ثانی | قرطبه | 238ھبمطابق 852ء |
| 6 | منذر بن محمد اول | قرطبه | 273ھبمطابق 886ء |
| 7 | عبد الله بن محمد اول | قرطبه | 275ھبمطابق 888ء |
| 8 | عبد الرحمن ثالث | قرطبه | 300ھبمطابق 912ء |
| 9 | الحکم ثانی بن عبد الرحمن ثالث | قرطبه | 350ھبمطابق 961ء |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 10 | هشام ثانی | قرطبه | 322هتا 403ه<br>بمطابق 976ء تا 1013ء |

روستو بیا د طوائف الملوکی دور شروع شو، آخر کار په 890 ه بمطابق 1485 ء کښې د فرډیننډ او ملکه ازابیله متحده فوځونو غرناطه لره فتحه کړه او دغه شان د مسلمانانو د هغه حکومت خاتمه اوکړی شوه کوم چې تر اتوسو (800)کالو پورې جاری وو.

## مرکز ناچاقی لرونکي بعضې حکومتونه

## (فاطمیه، العبدیه، اسماعیلیه)

دولت فاطمیه یا سلطنت فاطمیه یا خلافت فاطمیه د خلافت عباسیه د خاتمې نه روستو په سن ۲۹۷ هـ کښې د شمالی افریقی په ښارې قیرون کښې قائم شو.

ددې سلطنت بانی عبید الله مهدی چونکه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د لور حضرت فاطمی رضی الله عنها په اولاد کښې وو( د بعضې محقیقینو دی سره اختلاف شته.

دې وجې نه د دۀ سلطنت ته سلطنت فاطمیه وئیلی شو، عبید الله په تاریخ کښې د مهدی په لقب سره هم مشهور دې چونکه د دې حکومت بانی عبید الله مهدی وو، د دی نسبت په بنیاد دیته دولت عبیدیه هم وئیلی شې، او د امام جعفر صادق مشر نمسی ابو طاهر اسماعیل ته د دې فرقې د منسوب کولو په بنیاد دیته اسماعیلیه هم وئیلی شی.

د ۲۹۷ هنه ٥٦٧هبمطابق (۹۱۰ء تا ۱۱۷۱ء) پورې د فاطمیین مصر (الاسماعیلیه) په مصر قاهره باندې حکومت وو او په دې سلطنت کښې د اهل تشیع د افکارو او تعلیماتو غلبه وه.

او بیا سلطان صلاح الدین ایوبی په ساتہ«۷» محرم ٥٦٧هجری بمطابق ۱۱۷۱ عیسوی کښې چې کله د مصر اختیار مند شو نو د دې

حکومت خاتمه ئې اوکړه او دغه شان دا سلطنت په عباسی خلافت بغداد کښې مدغم کړې شو.

۲) خلفاء موحدين (ادريسی)

مغرب اقصی يعنې مراکش وغيره کښې ۱۷۱ هتا ۳۹۹هبمطابق ۷۸۸ء تا ۱۰۰۸ء دا حکومت قائم وو.

محمد بن تومرت يو ډير لوې عالم دين وو کوم چې په عهد سلجوقی کښې د مشهور بزرګ او عالم امام غزالی شاګرد پاتې شوې وو او هم د هغوی په اشاره باندې ئې په مغرب اقصی يعنې مراکش کښې دا خپل اصلاحی تحريک شروع کړی وو.

د دې تحريک مقصد سماجی او اخلاقی اصلاح وه، دوی به چې چرته هم څۀ قسمه حرکت د اسلام په خلاف باندې ليدلو نو په هغې باندې به ئې رد و ټوک کولو.

دوی په مسلمانانو کښې د شراب نوشۍ او بې پردګۍ د خور شوی لهر د روک تام سره سره د مختلف قسمه ګناهونو د ختمولو د پاره بهر پور کوشش شروع کړی وو د کوم په وجه چې د خلقو په زړونو کښې د دوی مقبوليت پيدا شوې وو.

او هم دغه مقبوليت د مرابطين د حکومت د پاره خطره جوړه شوی وه په دې وجه د مرابطين حکومت دوی لره د مراکش نه جلا وطن کړل نو

دوی دویم شهر اغمات ته راغلل خو د دې ځاې نه هم دوی جلا وطن کړې شو.

بیا آخر کار دوی خپل وطن هرغه ته لاړل کوم چې په کوه اطلس کښې واقع وو او دلته په زرګونو خلقو د دوی دعوت قبول کړو او ورسره ورسره ئې فوجی تربیت او مذهبی تعلیم هم حاصل کړو.

د مرابطین فوج دوی پسې دلته هم راغې او د دوی د کلی محاصره ئې اوکړه خو چونکې اوس د ابن تو مرت ملګری چاته چې موحدین هم وئیلی کیدل د مقابلې کولو جوګه شوی وو، دې وجې نه ډیر سخت جنګ د دوی ترمینځه اوشو او سرکاری فوج ته ماتې ورکړې شوه.

## ۳ )ایران کښې صفوی خاندان

بانی اسماعیل صفوی ( د ظهیر الدین بابر هم عصر)

د ۸۹۲۵هنا تر پورې بمطابق ۱٤۸۷ء تا ۱۵۲۳ء حکومت کړې وو او د دې سلسلې خاتمه نادر شاه (۱۱٦۰هبمطابق ۱۷٤۷ء کړې وه.

د سلطنت بنیاد ایخودونکی د شاه اسماعیل په اولاد کښې یو بزرګ شیخ اسحاق صفی الدین ته د منسوب کیدلو په وجه دې خاندان یا سلطنت ته صفوی سلطنت وئیلی شی.

په ایران کښې د اسلامی فتوحاتو نه روستو دا د ټولو نه لوی حکومت وو کوم چې د ۱۵۰۱ نه ۱۷۲۲ پورې قائم وو او دا هغه خلق وو چا چې د تیموریانو نه روستو په ایران کښې عروج حاصل کړې وو.

## ٤ )باطنيه (قلعه الموت )

د حسن بن صباح پوره نوم حسن بن علی بن محمد بن جعفر بن حسين الصباح الحميری وو، دې ايرانی دې او په کوفه کښې پيدا شوې دې.

د خپلې زمانې د رواج مطابق دهٔ خپل ځان يو عرب الحميری خاندان ته منسوب کړی وو خو دهٔ ته دا خبره خوښه نهٔ وه چې څوک د دهٔ نسب بيان کړی دهٔ به خپلو مريدانو ته دا وئيل چې ماته د خپل امام مخلص غلام وئيل ډير خوښ دی په نسبت د دې چې ماته يو نا خلف هلک اووئيلې شی.

صرف د اوو کالو په عمر کښې ئې د حصول علم شوق لرلو، د اتلس کالو په عمر کښې دهٔ د رياضۍ نجوم او سحر وغيره علوم حاصل کړل، بحيرهٔ قزوين سره نزدې واقع قلعه الموت باندې حسن بن صباح قبضه حاصل کړه او هم د دې ځاې نه ئې د خپل دعوت او تنظيمونو کار شروع کړو.

حسن بن صباح او د هغهٔ اته جانشينو حکومت کړې وو او د دهٔ دار الحکومت هم قلعه الموت وه چرته نه چې د ٤٨٣ هجری نه ٦٥٤ هجرۍ بمطابق ۱۰۹۰ د تا ۱۲۵٦ء پورې د دهٔ مختلف جانشينانو حکومت کړې وو، حسن بن صباح پخپله تر يو کم د يرشو کالو پورې حکومت کړې وو او په دغه قلعه کښې يو جنت جوړ کړې وو او دوی د باطنی شيعه ګانو انتهائی دهشت ګرد خلقه وو.

ددې فرقې څو نومونه دی حسنی، فدائیه، صباحیه، حشیشین، باطنیه وغیره په سن ٦٥٤ هجری کښې منګولیانو دوی ته ماتې ورکړه او دوی د حکومت خاتمه ئې اوکړه.

## ٥ )علوی خا ندان (طبرستان )

په طبرستان کښې د علوی خاندان حکومت وو.

٢٥٤ھتا ٢٩٢ھبمطابق ٨٦٨ء تا ٩٠٥ء .

په بنو هاشم کښې دوه ډلې وې چې په هغوی کښې یوې ډلې د حضرت علی رضی الله عنه اولاد لره د خلافت حقداران ګنړل او دویمې ډلې د حضرت عباس رضی الله عنه اولاد لره د خلافت مستحق ګنړل.

عباسی دور حکومت کښې چونکه نورو عرب قبائلو او ډلو د بنو عباس نه په بغاوت کولو کښې د علویو ملګرتیا اونکړه، دې وجې نه علویو بغداد لره د خپل ځان د پاره یو غیر محفوظ ځاې تصور کړو او ایران ته ئې هجرت اوکړو او په سن ٢٥٤ هجری کښې ئې د حسن بن زید په قیادت کښې د خپل خود مختاره او مستقل حکومت اعلان اوکړو.

## سلطنت هند

**د عربو هندوستان ته آمد.**

محمد بن قاسم په ٦٩٤ هجرۍ کښې طائف کښې پيدا شو او د دۀ پلار د خاندان په ممتاز خلقو کښې شمارلې شو، هر کله چې حجاج بن يوسف د عراق ګورنر مقرر کړې شو نو هغه د ثقفی خاندان ممتاز خلقه په مختلفو عهدو باندې مقرر کړل.

په دوی کښې د محمد پلار قاسم هم وو چې د بصرې والی جوړ کړی شوې وو دې وجې نه د محمد بن قاسم ابتدائی تربيت په بصره کښې اوشو او تقريبا د پنځو کالو وو چې پلار ئې وفات شو.

په عمان کښې معاويه بن حارث علافی او د هغۀ رور محمد بن حارث علافی د بنو اميه خليفه د وليد بن عبد الملک خلاف بغاوت اوکړو، خليفه ورپسې فوج اوليږلو نو په هغوی کښې د فوج سپه سالار امير سعيد او وژلې شو، علافيانو سره د خپلو ملګرو نه په کلان کښې پناه حاصل کړه چرته چې د را جا داهر حکومت وو.

په دې باندې مستزاد راجا دا هر د تجارتی قافلو سره راغلې ښځې هم ګرفتار کړې وې.

لهذا په دغه قيديانو کښې يوې ښځې حجاج بن يوسف ته خط واستولو، حجاج بن يوسف د دې فهم سر کولو د پاره خپل عزيز محمد بن قاسم سالار مقرر کړو او وې ليږلو.

محمد بن قاسم د فتوحاتو سلسله شروع کړه او د درې کالو په مختصره عرصه کښې ئې د سندهـ اهمې علاقې سره د ملتان نه فتحه کړې او د سندهـفتوحات ئې پایه تکمیل ته اورسول.

## (سلطنت هند)

## د عربو هندوستان ته آمد

| شماره | نام | تاریخ |
|---|---|---|
| 1 | د محمد بن قاسم په سندهـباندې حمله | ۹۲هـبمطابق ۷۱۱ء |
| 2 | د محمد بن قاسم حکومت | ۹۳هـتا ۹۵ هـ<br>بمطابق ۷۱۲ء تا ۷۱٤ء |
| 3 | موسی بن کعب سندهـته راغلې وو | ۱۸٤هـبمطابق ۷۵۱ء |
| 4 | ماما موسی بر کلی لره د سندهـوالی جوړ کړې وو | ۲۱۳هـبمطابق ۸۲۸ء |
| 5 | په سندهـکښې د حکومت هباری ابتداء | ۲٤۰هـبمطابق ۸۵٤ء |
| 6 | مسعودی سندهـته راغلې دې | ۳۰۳هـبمطابق ۹۱٦ء |
| 7 | ابن مهلهل سندهـته راغلې دې | ۳۳۲هـبمطابق ۹٤٤ء |
| 8 | اصطغری سندهـته راغلې دې | ۳٤۰هـبمطابق |
| 9 | ابن حوقل بغدادی سندهـته راغلې وو | ۳٤۳هـبمطابق ۹۵٤ء |

## د محمود غزنوی او ولس حملې

په نهه سوه او نوی عیسوی کښې د سبکتګین د وفات نه روستو د هغه ځوې محمود غزنوی د نیشاپور حاکم مقرر شو، د محمود غزنوی ورور اسماعیل د خپل پلار د وفات په موقع باندې د خپلې تاج پوشۍ اعلان اوکړو، اول کښې سلطان محمود د خپل ورور سره د خط و کتابت په ذریعه د مفاهمت کوشش اوکړلو خو چې څه حل را ؤ نۀ وتلو نو په ۹۹۸ء کښې ئې په غزنی باندې حمله اوکړه او د اسماعیل حکومت ئې ختم کړو او پخپله د غزنی حکمران جوړ شو.

بیا سلطان محمود غزنوی په هندوستان باندې څو ځله حملې اوکړې.

په ۱۰۰۱ء کښې د پیښور سره نزدې د راجه جی پال او سلطان محمود غزنوی د فوځونو ترمینځه مقابله اوشوه او آخری جنګ په ۱۰۲۷ کښې اوکړې شو.

## د محمود غزنوی مشهورې حملې

| شماره | د حملې ځای | تاریخ |
|---|---|---|
| 1 | ړومبۍ حمله په ملتان باندې | ۳۹٦ھبمطابق ۱۰۰۵ء |
| 2 | آخری حمله سومنات باندې | ٤۱٦ھبمطابق ۱۰۲۵ء |
| 3 | د شهاب الدین غوری په سندهباندې حمله | ۵۷۱ھبمطابق ۱۱۷٦ء |
| 4 | ملتان باندې قبضه | ۵۷۱ھبمطابق ۱۱۷٦ء |
| 5 | لاهور باندې قبضه | ۵۸۲ھبمطابق ۱۱۸٦ء |

## په هندوستان کښې مسلمانان حکمران خاندان غلامان

قطب الدين ايبک د خاندان غلامان باندې او د شهاب الدين غوری د فوځ جنرېل وو، په هندوستان کښې د غوری سلطنت انتظام و انصرام هم دهٔ ته حواله وو، د شهاب الدين غوری د شهادت نه روستو دهٔ د خپل حکومت اعلان اوکړو او دا حکومت د دهٔ په خاندان کښې تقريبا دوه نوی کالو پورې اوچليدو.

دهٔ اولا لاهور خپل دار الحکومت ګرځولی وو او بيا دغه دار الحکومت دهلی ته منتقل کړې شو.

قطب الدين ايبک ۱۲۱۰عيسوی کښې وفات شو او د دهٔ نه روستو يو ترک غلام التمش په تخت باندې کيناستو، التمش د قطب الدين ځوم وو او د التمش نه روستو راتلونکی ټول سلاطين تقريبا د دهٔ په اولاد کښې وو.

دې وجې نه دې حکمران خاندان ته خاندان غلامان هم وئيلې شې او دوی ته مملوک سلاطين هم وئيلې کيږې روستو بيا د خلجی خاندان جلال الدين فيروز خلجی د دوی د حکومت خاتمه اوکړه.

# په هندوستان کښې مسلمانان حکمرانان خاندان غلامان

| شماره | نام | تاریخ |
|---|---|---|
| 1 | قطب الدین ایبک | ٦٠٢هبمطابق ١٢٠٦ء |
| 2 | شمس الدین التمش | ٦٠٧هبمطابق ١٢١٠ء |
| 3 | رکن الدین فیروز شاه دهلی | ٦٣٣هبمطابق ١٢٣٦ء |
| 4 | رضیه سلطانه | ٦٣٤هبمطابق ١٢٣٦ء |
| 5 | علاؤ الدین مسعود | ٦٣٩هبمطابق ١٢٤٢ء |
| 6 | ناصر الدین محمود | ٦٤٤هبمطابق ١٢٤٦ |
| 7 | غیاث الدین بلبن | ٦٦٤هبمطابق ١٢٦٦ء |
| 8 | معز الدین کیقباد | ٦٨٧هبمطابق ١٢٨٧ء |

## خلجي خاندان

د مملوک سلاطین دهلی نه روستو ۱۲۹۰ ء نه تر ۱۳۲۰ ء پورې خلجي بادشاه په هندوستان باندې حکمرانان پاتې شوې دې د خلجي خاندان بنیاد جلال الدین خلجي کیخودلې وو او د هغۀ نه روستو د هغۀ ورارۀ علاؤ الدین خلجي تخت نشین شوې وو او پوره هندوستان د دۀ په قبضه کښې راغلی وو، د جلال الدین خلجي نه روستو نا اهله خلق د هغۀ جانشین شول او آخر کار د تغلقیانو په لاسونو د خلجي حکومت خاتمه اوکړې شوه.

## خاندان خلجي

| تاریخ | نام | شماره |
|---|---|---|
| ٦٨٩ه بمطابق ۱۲۹۰ء | جلال الدین خلجي | 1 |
| ٦٩٥هبمطابق ۱۲۹٦ء | علاؤ الدین خلجي | 2 |
| ۷۱۵هبمطابق ۱۳۱٦ء | شهاب الدین عمر خلجي | 3 |
| ۷۱٦هبمطابق ۱۳۱٦ء | ملک کافور (قتل) | 4 |
| ۷۱۹هبمطابق ۱۳۱۹ء | ناصر الدین خسرو | 5 |

## تغلق خاندان

په هندوستان کښې د خلجی خاندان نه روستو سلطان غیاث الدین تغلق په دهلی باندې د تغلق خاندان حکومت قائم کړو، دا خاندان د ۱۴۱۳ء پورې حکمران پاتې شوې وو او د دې نه روستو سید خاندان بر سر اقتدار راغلو.

د تغلق خاندان دوه بادشاهان ډیر نامور وو یو سلطان محمد عادل بن تغلق شاه د دهٔ نوم ډیر ښکاره دې او هم ددهٔ په دور کښې مشهور سیاح ابن بطوطه هندوستان ته راغلې وو او دویم سلطان فیروز شاه تغلق د خپل خاندان یو ډیر ممتاز بادشاه تیر شوې دې.

دې ډیر دینداره او منصف مزاجه وو دې نه روستو د تغلق خاندان زوال شروع او په ۱۳۹۸ عیسوی کښې امیر تیمور بیک ګور کانی د دوی د لښ ډیر پاتې شوی طاقت خاتمه اوکړه بیا تیمور د وفات په وخت کښې سید خضر خان بن ملک سلیمان خپل نائب جوړ کړو.

خو آخری بادشاه سلطان ناصر الدین محمود شاه تغلق ډیر زر د دوباره په دهلی باندې قبضه اوکړه لیکن ۱۴۱۳ عیسوی کښې د هغهٔ د وفات نه روستو د تغلق خاندان بالکل ختم کړې شو.

# خاندانِ تغلق

| شماره | نام | تاریخ |
|---|---|---|
| 1 | غیاث الدین تغلق | ۷۲۰ھبمطابق ۱۳۲۰ء |
| 2 | محمد الدین تغلق | ۷۲۵ھبمطابق ۱۳۲۵ء |
| 3 | فیروز شاہ تغلق | ۷۵۲ھبمطابق ۱۳۵۱ء |
| 4 | غیاث الدین تغلق ثانی | ۷۹۰ھبمطابق ۱۳۸۸ء |
| 5 | ابوبکر تغلق | ۷۹۱ھبمطابق ۱۳۸۹ء |
| 6 | ناصر الدین تغلق | ۷۹۲ھبمطابق ۱۳۹۰ء |
| 7 | محمود تغلق | ۷۹۲ھبمطابق ۱۳۹۰ء |
| 8 | محمود تغلق دوم | ۷۹۵ھبمطابق ۱۳۹۲ء |
| 9 | محمود تغلق سوم | ۸۰۱ھبمطابق ۱۳۹۹ء |

## سادات خاندان

د تغلق خاندان د حکومت د خاتمې نه پس سید خاندان بر سر اقتدار راغې او بیا دوی د ۱٤۱٤ عیسوی نه واخله تر ۱٤٥۱ عیسوی پورې په سلطنت دهلی باندې حکومت اوکړو.

د امیر تیمور د مسلسل حملو نه بعد دهلی سلطنت مکمل طور باندې کمزورې شو، او هم په دې حالاتو کښې سید خاندان د طاقت حاصلولو نه بعد تقریبا اوو دیرش کاله پورې حکومت اوکړو.

## خاندان سادات

| شماره | نام | تاریخ |
|---|---|---|
| 1 | خضر خان | ۸۱۷هبمطابق ۱٤۱٤ء |
| 2 | مبارک شاه ثانی | ۸۲٤هبمطابق ۱٤۲۱ء |
| 3 | محمد شاه | ۸۳۷هبمطابق ۱٤۳٤ء |
| 4 | علاؤ الدین عالم شاه | ۸٤۹هبمطابق ۱٤٤٥ء |

## لودھی خاندان

د سید خاندان آخری حکمران سید علاؤ الدین بن محمد شاه رضاکارانه طور باندې د بهلول خان لودهی په حق کښې په نور لسم اپریل ۱٤٥١ء کښې د سلطنت دهلی تخت پریخودو او دغه رنګه بهلول خان لودهی د لودهی خاندان بنیاد کیخودو.

## مغل خاندان

ظهیر الدین بابر ته د مغلیه سلطنت ړومبنې حکمران او بانی وئیلې شی کوم چې د تیمور خاندان یو سردار وو.

د هندوستان نه مخکښې هغهٔ د کابل حکمران وو، په ۱٥۲٦ عیسوی کښې ظهیر الدین بابر د ابراهیم لودهی فوج ته شکست ورکړو او دغه رنګ د مغل سلطنت آغاز اوشو مغل حکمرانانو د ۱٥۲٦عیسوی نه واخله تر ۱۸٥۷ عیسوی پورې په پوره بر صغیر باندې حکومت کړې دې.

## خاندان مغلیه

| شماره | نام | تاریخ |
|---|---|---|
| 1 | ظهیر الدین بابر | ۹۳۲هبمطابق ۱٥۲٦ء |
| 2 | نصیر الدین همایون | ۹۳۷هبمطابق ۱٥۳۰ء |

| سوری خاندان | | |
|---|---|---|
| 1 | شیر شاه سوری | ۹۴۷هبمطابق ۱۵۴۰ء |
| 2 | سلیم شاه سوری | ۹۵۲هبمطابق ۱۵۴۵ء |
| 3 | عادل شاه سوری | ۹۶۰هبمطابق ۱۵۵۳ء |
| 4 | د همایون واپسی | ۹۶۲هبمطابق ۱۵۵۵ء |
| 5 | جلال الدین اکبر | ۹۶۳هبمطابق ۱۵۵۶ء |
| 5 | نور الدین جهانګیر | ۱۰۱۴هبمطابق ۱۶۰۵ء |
| 6 | شاه جهان | ۱۰۳۷هبمطابق ۱۶۲۸ء |
| 7 | اورنګزیب عالمګیر | ۱۰۶۸هبمطابق ۱۶۵۸ء |
| 8 | بهادر شاه اول | ۱۱۱۸هبمطابق ۱۷۰۷ء |
| 9 | جهاندار شاه | ۱۱۲٤هبمطابق ۱۷۱۲ء |
| 10 | فرخ سیر | ۱۱۲٤هبمطابق ۱۷۱۲ء |
| 11 | رفیع الدرجات | ۱۱۳۱هبمطابق ۱۷۱۹ء |
| 12 | شاه جهان ثانی | ۱۱۳۱هبمطابق ۱۷۱۹ء |
| 13 | روشن اختر محمد شاه | ۱۱۳۱هبمطابق ۱۷۱۹ء |
| 14 | احمد شاه | ۱۱۶۱هبمطابق ۱۷٤۸ء |
| 15 | عالمګیر ثانی | ۱۱۶۷هبمطابق ۱۷۵٤ء |
| 16 | شاه عالم ثانی | ۱۱۷۲هبمطابق ۱۷۵۹ء |
| 17 | اکبر ثانی | ۱۲۲۱هبمطابق ۱۸۰۶ء |
| 18 | بهادر شاه ثانی (ظفر) | ۱۲۵۳هبمطابق تا ۱۲۷٤ء<br>۱۸۳۷ء تا ۱۸۵۷ء |

## سقوط بغداد نه سقوط دلی پورې

## (بغداد، اندلس، دهلی، خلافت عثمانی)

او اوس امت مسلمه د پنځم سقوط په غاړه باندې دې د عالم اسلام څلور لوی سقوطه شوې دی کوم چې دې ټول امت لره بې سهاره او یتیم پریخودې دې او هم د دې وجې نه نن په دنیا کښې مسلمان کمزوری او د زوال ښکار دی.

که چرې د دې څلور سقوطونو جائزه واخستې شی نو د دې درې لوې اسباب په نظر راځې.

۱) کمزورې دفاع: کله چې مسلمانانو سره دومره قوت او طاقت پاتې نه شو چې په هغې سره د کفارو مقابله او کړې شی بلکې مسلمانان د دفاع (وَ اَعِدُّوْا لَهُمْ مَااسْتَطَعْتُمْ) نه بالکل غافل وو.

کله چې هلاکو خان د بغداد نه محاصره کړې وه نو عین هم په هغه وخت کښې د هلاکو خان یو وفد موصل ته د اسلحې د خریدارۍ د پاره تلې وو.

ځکه موصل هغه وخت کښې د دوو څیزونو دپاره مشهور وو، یو خو هلته کښې ښۀ اسلحه تیارولې شوه او دویم هلته کښې ښائسته آلات د موسیقۍ جوړولې شو.

نو بعينه هم په دغه وخت کښې د حکومت بغداد شهزاده موصل ته د آلات موسيقیٰ د اخستلو د پاره تلې وو.

د هلاکو خان په شکل د الله تعالی عذاب د هغۀ په سر باندې سور وو نو دۀ له پکار وو چې اسلحه ئې اخستې وه او د مقابلې دپاره ئې ځان تيار کړې وې.

هم دا حال د دهلی هم وو، د دفاع نه غافل وو د اندلس او خلافت عثمانيه هم دا حال وو.

د خلافت او حکومت به خلاف په جنګيدل بغاوتونه به ئې کول په هندوستان کښې د راجه ګانو او نوابانو د طرف نه مخالفت وو هم د دی اختلافاتو په وجه ټول قوت او صلاحيت ختم شوې وو او د سره د حکومت نومې څه رټ په نظر نه راتلو.

**۳ )معاشی بد حالی**:

دريم څيز دا وو چې اقتصادی او معاشی طور باندې دا ټول حکومتونه کمزورې شوې وو، د دوی سره اوس دومره وسائل نه وو چې خپل ځان ئې ورباندې سنبهال کړې وې او دفاع ئې کړې وې لکه د هندوستان په وسائل باندې ايسټ انډيا کمپنیٰ قبضه کړې وه ټول معيشت د دوی لاسو ته راغلې وو.

د معيشت او اقتصاد مثال خو د وينې په شان دې چې په بدن کښې وينه نۀ وی نو بدن به څنګه چليږی.

**لمحه فکریه:**

کله چې مونږ د ماضۍ د تاریخ او د مسلمانانو د موجوده حالاتو جائزه اخلو نو دا په نظر راځی چې مسلمانان دې وخت د پنځم سقوط په غاړه ولاړ دی.

ټول مسلم ممالک، عرب ممالک او په افغانستان وغیره کښې جنګ شروع دی معیشت تباه کولې شی حکومتونه بربادولې شې او قتل و قتال جاری دې

پاکستان هم نشانه باندې دې د دې معیشت خرابولو د پاره بد امنی، فرقه وارانه فسادات، عصبیت او د لسانیت په نوم جګړې شروع دی او د ملک خدا داد د طاقت د کمزورې کولو کوششونه جاری دی خو سره د دې نه د امید کرن هم موجود دې ان شاء اللّٰه.

**مآخذ او مصادر**

| | | |
|---|---|---|
| 1 | مختصر تاریخ خلافت اسلامیه | مولانا عبد القدوس هاشمی |
| 2 | اټلس فتوحات اسلامیه | مرتب دار السلام |
| 3 | الشمس والقمر بحسبان | مولانا عبد الرحمن کیلانی |
| 4 | تاریخ امت مسلمه | مولانا اسماعیل ریحان |
| 5 | ریاست مدینه | مولانا زاهد الراشدی. |

تمت بتوفیق اللّٰه تعالی